دبچانو شهادت سالی ساختیم
تابه مرام لوی گوشهید پیام رسی ارغون ... شاگرد شد
چهارصفحه
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
نمبرمسلسل (۱۱۹۰) سال نزدهم شماره (۹۹) پنجشنبه (۱۱) اسد ۱۳۷۵ هـ ش (۱۷) ربیع الاول (۱٤۱۷) هـ .ق اول اگست ۱۹۹٦ م

دهیوادپه شمال کی یوځل بیا دخونړی جګړی اوریل شو

جګړه دمزارشریف په (۱۲۰) کیلومتری اودجوزجان په جنوب کی روانه ده

دولتی ځواکونو د (۵۲) تنو دوژل کیدو خبرورکړی دی

دجګړی دپیښیدو اصلی عامل تراوسه څرګند ندی

مزارشریف - داسد ۱۰ مه :
دوازسیدلو ریپوټونو له مخی دهیواد په شمال کی ددولتی ځواکونو اودملي اسلامي جنبش دوسله والو قوتونو تر منځ خونړي جګړه پیل شوي چي دګن شمير کسانو دمرګ ژوبلي سبب شوي ده .
دبي بي سي راديو درپوټ مطابق ددغه جګړي دپيل علت تراوسه ندي څرګند، خوداسي ويل کيږي چي په شمال کي ددولت دپلوي ځواکونو جنګي تياريو، دجنبش ځواکونه دغه بريد ته هڅولي دي
درپوټونو ترمخه دغه جګړه دمزارشریف په (۱۲۰) کیلومتري اودجوزجان په جنوب لوري ته نښتي ده چي ويل کيږي کم ترکمه (۵۲) تنه پکي وژل شوي دي .
داسي خبرهم ورکړل شوي چي په جګړه کي ښکيلو لوريو له هوايي ځواک څخه هم کاراخيستي .
همدارازدکابل راديو ددولتي منابعو قول ويلي دي چي دولتي ځواکونو په شمال کي دملي اسلامي جنبش دقوتونو يو بريد په شا تمبولي اوهغوي ته يي دسراومال سخت تاوان وروسولي دي .
دغه جګړه پداسي حال کي پيښيږي چي دافغانستان لپاره دملګرو ملتو سازمان دعمومي منشي ځانګړي استازي ډاکترو نابرټ هول ، مزارشریف ته تللي اوهلته دملي جنبش له مشر جنرال عبدالرشيد دوستم سره دکرکيچ دحل په لارو چارو باندي خبري کوي .

الهی لارښوونی

اوبیښه هغاوشوه چي کله هغوي دخپل پلارله لارښوونی سره سم ښارته (له بیلابیلو دروازونه) ورداخل شول نودهغه دغسه احتیاطي تدبیر دالله دغوښتني په مقابل کي هيڅ په دردونشوخوړلي .
خوصرف ديعقوب (عليه السلام) په زړه کي چي يوه تلوسه وه دهغه پوره کولو لپاره هغه تر خپلي وسي هڅه وکړه . بيشکه هغه زموږ دورښودلي علم خاوند ؤ خوزياتره خلک دموضوع په حقيقت باندي پوهيږي نه
(يوسف - ٦٨)

دملګرو ملتو سازمان نوی استازی ډاکتر ناربرټ هول په کابل کی مطبوعاتی کنفرانس ته وویل :

طالبانو زما اوزما دهیئات سپکاوی وکړ

طالبان به تردی وروسته پروبناسربیره اوریدل هم زده کړی

ماهیله درلوده چی خپل دفتر کابل ته انتقال کړم خودامنیت تربه والی پوری داکار ممکن ندی

کابل - داسد ۱۰ مه :
افغانستان لپاره دملګروملتوسازمان دسرمنشي ځانګړي هئات مشر ډاکتر ونابرټ هول، ديوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کي طالبان تورن کړل، چي په کابل ښارکي دده دموجودت په دوران کي يي دده په ‹‹ يونيف ›› موسسي په ودانۍ په راکټي ډزو سره دده ماموريت ته توهين کړي دي .
ډاکتر وناربرټ هول ، چي په کابل ښارکي تردوه ورځني هستوګني اوله
باقی دڅلورم مخ په لومړي ستون

په کابل ښارکی دیر غمل نیونکو یوه ډله ونیول شوه

کابل - دزمري ۹ مه :
داختناف کونکو يوه ډله دکابل ښاريه مربوطاتو کسي د امنيتي مسئولينو له خواکشف اوونيول شوه .
دکابل راديو درپوټ په اساس په دغه ډله کي (٦) تنه وسله وال افراد شامل دي چي دکابل ښاريانو دتښتولو اوله هغوي
باقی دڅلورم مخ په ... ستون

دکنړ، بغلان اوپروان مشرانو له ورور حکمتيار سره وکتل

کابل - دزمري ۱۰ مه :
دهيواد صدراعظم ورور حکمتيار تيره ورځ له غرمي وروسته دکنړونو اوبغلان دولايتونو او د لجراب سالنګ ، استالف ده سبز ولسواليو د عالمانو، مجاهدينو اوسپين ږيرو او دساداتو دشورا له استازوسره وکتل .
په کابل کي دشهادت دخبريال درپوټ په اساس په دغه کتنه کي ددغو سيمواستازو ورور حکمتيار ته دصدارت
باقی دڅلورم مخ ... ستون

په الجزایرکی دیوه بم چاودنی (۲۰) تنه مړه او ټپیان کړل

الجزيره - دزمري ۱۰ مه :
دالجزاير په پايتخت الجزيره کي يوبه بل پسي دوه چاودني وشوي چي په ترڅ کي يي شلوتنو څخه زيات کسان مړه اوټپيان شول .
دالجزاير دجمهوررئيس اودهغه هيواد دمخالفو ګوندونو دمشرانو ترمنځ دسولي خبرو دتر سره کيدونه وروسته داپنځم ځل دي ، چي دهغه هيواد په پايتخت کي دبمونو زورووري چاودني ترسره کيږي ، چي په ترڅ کي يي مالي اوځاني تاوانونه اوښتي دي .
دپادوني وړده چي دسولي په دغو خبروکي دالجزاير مهم اوپرنفوسه اسلامي
باقی دڅلورم مخ ۳۰ ستون

معاون وزارت خارجه ایران طی کنفرانس خبری درکابل :

مساعی صلحجویانه ایران نتایج خوبی برجای گذاشته که مایه دلگرمی ما برادامه این مساعی است

هیئت جمهوری اسلامی درکابل وقندهار باطالبان مذاکره خواهد کرد

کابل - ۹ اسد :
یک مقام بلند پایه ایرانی اظهارداشته که کشورش میکوشد پروسه صلح میان دولت اسلامي افغانستان وگروه طالبان را سرعت بخشد .
به گزارش روز نامه و نیوزه علاوالدین بروجردي معاون وزارت خارجه جمهوري اسلامي ايران درامورآسيا واوقانوسيه روز سه شنبه درکابل به خبرنگاران گفت : جمهوري اسلامي عنقريب هيئتي را به قندهاروهرات وشهرهاي تحت کنترول طالبان مي فرستد تاسران اين گروه رابه خود داري ازتحرکاتي که موجب شدت جنګ مي شود نمايد ودرمورد خاتمه راکت باري برکابل وعدم گسترش مواد مخدردرمنطقه با آنها صحبت نمايد .
بقيه درستون ... صفحه ...

په نیول شوی کشمیرکی پنځو مجاهدو ګوندونو ګډه جهادی شورا جوړه کړه

سرينګر - دزمري ۱۰ مه :
په نيول شوي کشميرکي دهندي پوځ پرخلاف جنګيدونکو پنځو جهادي تنظيمونو(حزب المجاهدين ، حرکت الانصار، الجهاد تحريک ، المجاهدين ګوند اوالعمر مجاهدين) دروان اسلامي جهاد ديري اوهندي پوځ په مقابل کي دمتحدانه
باقی دڅلورم مخ ۳۰ ستون

درطول ده سال گذشته :

جنگ های جاری درجهان (۲۰) میلیون طفل رامتاثر ساخته است

دومیلیون طفل کشته وچارمیلیون معیوب شده اند

لندن
تعداد اطفالي که درطول ده سال گذشته درجنګ و درګيري هاي جاري درجهان متضرر و متاثر شده اند به چهاربرابر افزايش يافته است
طبق ګزارش يک اداره خيريه و اجتماعي برتانيه بنام (چلدرن ايدا يرکت) تعداد اطفال بي خانه ومتضرر شده ازجنګ درسال (۱۹۸۰) شش مليون بود
بقيه درستون ۲ ، صفحه ٤

دسمنګانو په ولایت کی نوی جوړشوی دارالعلوم دطالب العلمانو پرمخ پرانستل شو

سمنګان - دزمري ۸ مه :
دسمنګانو ولايت دروي دو آب دولسوالي دنورالانوار ددارالعلوم ودانۍ جوړه اواستفادي ته چمتوشوه .
دکابل راديو درپوټ په اساس په هغه غونډه کي چي دنوموړي دارالعلوم په انګړکي جوړه شوي وه دپلان وزارت يوهنت او دهغه ولايت دروي دوآب دولسوالي عالمانو اومشرانو ګډون کړي و، دغه ودانۍ دلوست (۸) کوټي او ٤
باقی دڅلورم مخ ... ستون

عنقریب سناتور براون واردافغانستان می شود

واشنګټن - ۹ اسد :
درحاليکه اميدواري هايي براي استقرارصلح در افغانستان ايجاد شده سناتور هانګ براون در نظردارد درجريان هفته سوم برج اګست به افغانستان وپاکستان سفرکند تاساعي اي راکه قبلاً به هدف حل صلح آميز مسئله افغانستان آغازنموده تعقيب نمايد .
بقيه درستون ... صفحه ٤

دجلوزو دثقافت اسلامي په ليسه کی دسیرت النبی کانفرانس ته په وینا کی :

استادمحمدیاسر: که سبا تفاهم اوخبروته کښینو، نو باید نن کښینو

دحکمتیاراصلاحات شرعی عمل دی ، څوک چی پری راضی نه دی هغه کافران دی **قوماندان تورېالی**

پيښور - دزمري ۱۰ مه :
دجلوزوکمپ دثقافت اسلامي په عالي ليسه کي دوه ورځ دحضرت پيغمبر (ص) نيکمرغه ميلاد ديسوي پرتمينې غونډي په ترڅ کي ولمانځل شو. دشهادت خبريال ريوټ راکوي پدي غونډه کي دليسي پرمتعلمينو، اودکمپ پرسپين ږيرو اومشرانو سربيره داتحاد اسلامي افغانستان دعالي اواجرائيه شورا غړي استاد محمد ياسر اوداتحاد د عالي شوراغړي او دمشرقي شورا غړي قوماندان تورېالي هم ګډون کړي و .
غونډه دقرآن عظيم الشان په تلاوت پيل شوه ، لومړي دليسي دووتنو دميلادالنبي (ص) په هکله خبري وکړي، وروسي دترانې ګروپ يوه ترانه واوروله ، اوبيا دليسي مديرمحمدعارف مسعود خپله وينا وکړه .
ريوټ زياتوي همداراز دغه غونډي ته
باقی دڅلورم مخ ۳۰ ستون

روسیه واتحاد اروپا با پالیسی جدید امریکا علیه ایران ولیبیامخالفت کردند

واشنګټن
روسيه واتحاديه اروپاپالسي اقتصادي جديد امريکاعليه ايران وليبيا شديداً مخالفت نموده اند .
مطابق ګزارش خبرګزاري جمهوري اسلامي اداره کلنټن قانون جديد تحريم اقتصادي موسوم به ‹‹داماتو›› رابرضد کشورهاي ايران وليبيا به تصو يب رسانيده که براساس آن واشنګټن مي خواهد اقتصاد اين دوکشوررا درحال رکود
بقيه درستون ... صفحه ...

دیونیورستی تهاون پولیسو ددریو افغانی ورانکارو دنیونی ادعا کړی ده

پيښور - داسد ۱۰ مه:
په پيښور کي ديونيورسټي دتاون پوليسو ماموريت مشر سيد سريراقبال ددريو وسله والو افغاني تخريب کارانو دنيولو ادعاکړي ده .
ريوټ وايي دپوليسو دغه سرماموروويلي چي دوي محمدنواز دجمعه دين زوي ، نيازمحمد دعبدالله زوي، ‹‹بهار›› د جميل زوي سره دماينونو، کلاشينکوفونو اويوميل تومانچي سره نيولي دي.
دوغه کسانو په هکله نوره توضيح نده ورکړل شوي چي دافغانستان له کوم ځاي اوسيدونکي دي او چيرته نيول شوي . پدي ورځو کي دپاکستان پوليس په
باقی دڅلورم مخ ۳۰ ستون

دراجلسه عالی وزراء تصویب شد :

شعارار دوی اسلامی کشور تعیین شد

صراف ها طبق مقررات کارخرد را اغازنمایند

هیئت افغانی جهت خریداری مواد مورد نیاز عازم پاکستان گردد

کابل - ۱۰ اسد :
جلسه فوق العاده شوراي عالي وزرا بحت رياست برادرحکمتيار صدراعظم کشور دائرشد .
دفترمطبوعاتي صدارت عظمي خبرداد مجلس باتلاوت آياتي از قرآن عظيم الشان آغازشد و سپس صدراعظم کشور راجع به مسائل سياسي وپيشرفت هاي اخير نظامي در ولايت پکتيکا به اعضاي کابينه توضيحات داد . بعداً روي موضوعات شامل اجندا بحث صورت ګرفت .
درجلسه ديروز شوراي وزرا درمورد انتقال مواد ارتزاقي ومحروقاتي به کشور فيصله به عمل آمد که :
۱ - مارکيت صرافي بعداز اين بازبوده وصرافها مطابق مقررات مامورين دولت کارخوردرا آغازنمايند.
بقيه درستون ٦ ، صفحه ٤

دملی دفاع وزارت دکابل ښاریانو دپوښتنو په ځواب کی وایی :

په هیوادکی تولی دفاعی چاری دعالی نظامی شورا له لاری اداره کیږی

ددفاع وزارت قطعات او جزوتامونه چمتو دی په هیواد کی له سولی ، امنیت اوقانون څخه دفاع وکړی

کابل - دزمري ۸ مه :
دملي دفاع دوزارت مطبوعاتي دفتر داتباعو دمصئونيت او په ښارياندي دراکټي بريدونو دمخنيوي په باب دکابل ښاريانو دغوښتنو په ځواب کي وزارت مسئوليترنه پدي ډول شرحه کړل :
دافغانستان دملي دفاع وزارت داسلامي دولت دتاسيس له وخت نه تراوسه له هرډول ډيرنيو اوکوږتيو څخه په بوانلدي دفاع کړي اودلوي خداي (ج) په مرسته ئي دخپلو دندو دسرته رسولو په لاره کي اوچت ګامونه پورته کړي او اميد دي چي په هيواد کي ديي ثباتي ټول عوامل لمنځه ولاړ شي .
دهندي واقعيت پراساس ده چي دملي دفاع وزارت دهيواد يوځل بيا دمسلمانو خلکو تيره بياداکابل دښاريانو په اړه لاندي مراتب يادوي .
۱ - دهيواد په دفاعي چارو پوري مربوطي مسئلي دعالي نظامي شورا له لاري اداره کيږي ، چي دملي دفاع وزارت چمتو دي چي دهغه دهدفونو دتحقق په
باقی ... مخ ... ستون

دبهرنیوچارو دوزارت مرستیال دځو هیوادونو له دیپلوماتیکو استازو سره په جلا جلا تو ګه وکتل

کابل - دزمري ۱۰ مه :
دبهرنيوچارو دوزارت مرستيال عبدالرحيم ‹‹غفورزي›› تيره ورځ دخپل کاري دفترکي په کابل کي دايران داسلامي جمهوريت له سفير ، د خوراکي موادو دنړيوال سازمان له استازي ، دترکيي دسفارت له شارژدافير اودانډونيزياله سفير سره په جلا، جلا توګه وکتل .
باقی ۲، مخ ۲، ستون

دطالبانو هیئات له جنرال بابر سره ولیدل

دپاکستان تلویزیون هیئات دطالبانو په ځای جنوبی افغانستان ته منسوب کړ

اسلام آباد - دزمري ۱۰ مه :
دطالبانو دغورځنګ يوه هيئات دپاکستان داسلامي جمهوريت دکورنيو چارو له وزيرمتقاعد تورن جنرال نصيرالله ‹‹بابر›› سره په اسلام آباد کي وليدل .
دطالبانو دهيئات مشري دنوموړي غورځنګ دعالي شورا غړي مولوي ، عبدالجليل کوله . اوداچي په کتنه کي په کومو موضوعاتو بحث شوي تراوسه نه ده معلومه شوي .
باقی ... مخ ... ستون

دکابل پرښاریانو باندی د طالبانو راکټی ډزی دوام لری

کابل - داسد ۱۰ مه :
دکابل ښار دهستوګني پرسيمو باندي دطالبانو لـه خوا دراکټونو داوروولو لړي دپخوا په شان دوام لري.
له کابل څخه دشهادت خبريال ريوټ راکوي تيره ورځ هم دکابل ښار داوومي ناحيي دهستوګني سيمي او دخلکو
باقی ... مخ ... ستون

مخطين اشغالي؛ سربازرژيم صهيونيستي مادرفلسطيني وطفلش را حين ورود به القدس دربوسته بيت اللحم باز رسي ميسمايد.

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون : ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳۶۰ یونیورستی تاون -پشاور

«چیری چی اراده وی هلته لارخامخا وی»

متاسفانه زموږ په هیواد کښي ډیر خوبونه بي تعبیره پاتي شول «ډیرشعارونه وشعارونه» پاتي شول ، ډیر «مفاهیم » بي معني اوبي افادیته پاتي شول اوډیرو ارمانونه» په ډیره جفا اوبي رحمی دنامرادیو په هدیروکي دفن شول .

له دي جملي څخه یوه ډیره ناوړه ګناوجفا داوشوه چي زموږ په مسلمان ملت باندي دځوارلس کلن قیامت صغري عاملین محاکمه نشول. هغه کسان دیوي عادلانه محاکمي میزته راکش نشول چي ملت ئي داسلام او ازادي په «جرم» قتل عام کړ، په وطن کي ئي دمرګونو «شکنجواوبي عقتیو اتن ګډکړ، دهیواد مسلمان عالمان، روشنفکران، او برجسته ملي کدرونه اوشخصیتونه ئي په ډله ایز مرګ محکوم کړل، دکابل، هرات اوکرهالي په ځير په سلګونو داسي فاجعي ئي وکړي چي یادول ئي دانسان په زړه لرزه راولي ،په پولیګون کي دزرګونومسلمانوزلیانو دنیم ژوندي اوژوندي ښخولو یوګونکي جنایات ئي د صربي جانیانودمشرانو رادوان کاراد زیچ اوراتکوملادیچ مخونه سپین کړي ، وطن ئي خرڅ کړ، په پردیوپوځونو ئي هیوادلوټه لوټه کړ، دوینو لښتي ئي وبهول، په دین ، ناموس اوازادي ئي لوبي وکړي، لته داچي دروسانو دبي عزته نوکرانو په څیرئي دخپل ملت په وړاندي هغه څه وکړل چي دبشریه تاریخ کښي ئي دبد شخصیتي اوپلیت کرداري یوشرمناك باب جوړکړ.

ددغسي مجرمینو په خلاف نه یواځي څه ونشول ،بلکي دځانته نژدي کولو لپاره ئي چني اوبولي شروع شوي او داقتدار دترلاسه کولو اوساتلو راز دهغوي دملاتړپه ترلاسه کولو کي ولیدل شو. په هندي وجه دکمونستانو مشران دلوبي، دمهمو لوبغاړو په څیرپاتي شول .

واقعیت دادي چي دا زموږ له مقدس جهاد اومجاهدملت سره یوه ستره جفا اوخیانت وشو.

له دي خبرونه زموږ مقصد دادي چي په یوه هیواد کي دومره ستر مجرمان نه داچي سري سترګي وګرځي او دګل واردي وړاندي ونشي بلکي لااوس هم دملت په سرنوشت اوقضایاوکي نقش ولري، دتصمیم نیولو دصلاحیت خاوندان وي، هلته به دجاداخبره څه مفهوم اوافادیت ولري چي « له خاین نه به پوښتنه کیږي اودملت له سرنوشت سره چي څوك په بي پرواني اوبي مسئولیتي برخورد کوي هغه به له خطرناکو عواقبوسره مخامخ کیږي ».

هلته به ملي محاکمه څه معني ولري، هلته به دقدرت خاوند له څه شي ووېرېږي ؟ آیا هلته دزور خاوند داحق نلري چي دملت دارادي ، دملت دارمان، دملت په وړاندي دځواب ورکولو اودي نه ورته خبروپه کونکو پوري وخاندي او ووائي چي « مانه داهرڅه چي چا راکړي، یواځي هغه به ئي راڅخه اخلي ، توکه زه خیال ساتم دهماغه طاقت دغوښتنو به ئي ساتم ، دملت په دي کي څه رول اودخل ... »

واضح ده چي دپردیو معیارونه اوګټي زموږ دملت میعارونه اوګټي نه دي ، تن هغه کمرنیستان دغرب دسترګو توردي چي پرون ئي د افغان ولس دقتل عام مجرمان بلل اودهغوي پرخلاف ئي دافغان ولس دوجهاد» دملاتړ په نامه په نړۍ کي دخپل افتخار تغاري غړبولې. پردي به زموږ څه غم وخوري . هغه کسان ډیره بده اشتباه کوي اوداحمقانو په جنت کي اوسیږي چي خپلي هیلي په پردیو پوري تړي اوفکر کوي چي پردي لښکري به راځي ،بحران به حل کوي اودوي ته به داقتدارتاجونه په سرونو وږدي .

دوي ته پکارده چي په داسي سوچونو باندي دوخت له ضایع کولو پرته راوړاندي شي، له هغو سره خپل ګامونه مله کړي چي غواړي خپل ملت وژغوري ، دګولیو اوبارونو له برغمل نه ئي خلاص کړي ، دارادي خاوند ئي کړي ، اودسیاست لوبغاړوته ئي داحساس ورکړي چي له یوه ژوندي قوم سره ئي معاملة ده ،باید سرچ اوتوجه وکړي .

که څه هم په دي لارکي ډیر زیات خنډونه دي، ډیر پیچلي اواغزن مزلونه دي خودادي ټولوباوجود دایوحقیقت دي چي « چیري اراده وي، هلته لارخامخا وي ».

حمایت ملل متحد ازجنایات صربی ها درجمهوریت بوسنیا

ع : مسافر

نانوای محله ها عادت دارد که نان را در بین کاغذ پارچه بدست مشتری خودمی گذارد و ما نیز عادت کرده ایم مطالب این کاغذ پارچه ها راتااخیر آن بخوانیم واز مطالب ارزنده که احیاناً درین کاغذ پارچه ها طبع گردیده است استفاده نمائیم. مثلاً همین کاغذ پارچه که دیروز بدست من رسید (مشرق میگزین) راپوری را که ازطرف یونیسیف درمورد تجاوز برزنان جنگ زده نشرگردیده بود مطالعه نمودم ،درین راپور از زنان بوسنیا تذکراتی بعمل آمده بود که مرا متوجه یاد داشتهای خودم ساخته خاطرهٔ رادرمخیله ام زنده گردانید که صربی ها بالای بیش از سی هزار زنان ودختران مسلمان در زیرریش قوای ملل متحد تجاوزکردند وحتی گفتند که قوماندانان ملل متحد نیز درین تجاوزات شریك بودند و دستهٔ اززنان مسلمان که تحت حمایه آن ها قرارداشتند ، برخی از آنها تا اکنون ناپدید اند،درین کاغذ پارچه علاوه گردیده است که زنان بنگله دیش کمبودیا ، قبرص،هیتی ، لایبریا ، صومالیا وبورگندانیز ازاین گونه تجاوزات بی نصیب نبوده اندولی واقعاً افغانستان درخون طپیده رافراموش کرده بودند، اما آنچه که دیروز و امروز دربوسنیا گذشته ومی گذرد ،جنایاتی است که موبراندام انسان راست می گرداند، قبل ازآنکه سرگذشت " مولی الدین اورتش " رابشنویم توجه شمارا به این نوشته مجله LEPOINT فرانسوی معطوف میدارم :

مجله مذکور دریکی ازشماره های اخیرخود می نویسد : باشاهدی درمحکمه بین المللی (لاهه) روبروگردیدم که دربرابر این محکمه چنین شهادت اداء نمود. من عساکر صربی ، را با چشم خود دیدم که طفلی را از آغوش مادرش گرفتند وچاقو برگلویش نهاده حلال نمودند وبعد قلب او را تکه تکه از سینه اش بدر آوردند، پدرش را که ازتالاق به درختی آویزان نموده بودند مجبورگردانیدند تا تکه های قلب جگر گوشه خود رابخورد وماشاهدیم که چنین کشتار سه روز درشهر (سربرینیتسا) ادامه داشت تا آنکه بقیه باشندگان آنجارا که به ۲۵ هزار نفر میرسید-

-به اردوگاه قوای ملل متحد در (پوتوکاری) انتقال دادند ،موضعی که تحت نظارت عساکر هالیندی قرار داشت ... این اردوگاه نیز قصهٔ دارد که روزی به آن خواهیم رسید.

مولی الدین اورتش یگانه مسلمانی است که بصورت معجزه آسائی از کشتارگاه صربی ها نجات می یابد نامبرده باکلمات دردآوری از چهره کشتاردسته جمعی که خود درآن صحنه قرارداشته است نقاب برمیدارد واز بربریت ووحشت دنیای متمدن امروزی که در نهایت قرن بیست قرارداریم» یاد می کند ، دنیایی که میخواهند نظام جهان شمول جدیدی را عرضه کنند دنیاییکه وقتی روسای جهان بزرگ دهان باز می کنند جز آواز تامین حقوق بشر ازربان آنها شنیده نمیشود.

مولی الدین اورتش باشنده قریه (سهانیسی) درشرق بوسنیا می گوید: وقتی صربی ها مارا چشم بسته دریك صف قراردادند . من محکم بدست پسر کاکایم چسپیده بودم که ناگهان درهمین حالت تشویش آور برماآتش کشودند وپسرکاکایم بالای من افتید ، من درمیان جوی خون بین زندگی ومرگ قرارداشتم . بعداز لحظهٔ چند متوجه گردیدم که درپهلوی من خندقی بزرگی را حفر کرده اند تابرای مامقبره باشد درهمین دقیقه موتر صربی ها حرکت نمود تامسلمانان دیگری را بدینجا انتقال دهند ، من به شدت ترسیده بودم زیرامی ترسیدم که مرا زنده بگوردفن نکنند...

مولی الدین اورتش این سرگذشت رقت آور را با خبرنگارروزنامه (کرسچیان ساینس مرنوتور)

درمیان گذاشت وروزنامه مذکور این سرگذشت را بتاریخ ۱۶ نومبر ۱۹۹۵ نشرمی نماید. وبه این ترتیب (دیوید دوو) روزنامه نگار این روزنامه همه رویدادهای این جنایت راباد لایل مثبت وگواهی کسانی که اینکشتاردسته جمعی را دیده اند بنشرمی سپارد وطوریکه صربی ها چگونه مسلمانان را بسان حیوانات حلال نمودند حکایت می کند.

طوریکه روز نامه مذکورمی نویسد این کشتار دسته جمعی بتاریخ ۱۴ جولای ۱۹۹۵ درامتداد یك سلسله کشتار های دست جمعی دیگر صورت می گیرد. کشتار هائی که برضد مسلمانان بوسنیا براه انداخته بودند .

روز نامه نگارموصوف علاوه می کند: مقابر دسته جمعی مسلمانان دربوسنیا به (۳۰۰) مقبره دسته جمعی میرسد که بقول مجله فرانسوی مذکور بیش از (۸۰۰۰) نفر درین مقبره ها مدفون اند، اما با وجود این جنایات بزرگ صربی ها در برابر مسلمانان جهان متمدن امروزی نه تنها عکس العمل از خود نشان ندادند ، بلکه تا اندازه زیادی آنرا نادیده گرفتند. خبر های جنایی را به اشاره وایماء بنشر سپردند وقتی ملل متحد موافقت نامه را باجنایت کاران جنگ امضا می کند . عملاًنشان میدهند که حامیان حقوق بشر نه تنها پابند مقررات بین المللی ومنشور ملل متحد نیستند بلکه انسانیت نزد آنها بیمعنی بوده ومفهومی ندارد و نظام جدید آنها همان نظامی است که برضد مسلمانان تسوید گردیده است ونادیده گرفتن جنایات صربی ها برمسلمانان همان گامهایی است که برای نابودی مسلمانان برداشته میشود ومسلمانان باید بدانند که تباهی بوسنیا آخرین منزل برای تسوید کنندگان حقوق بشرنبوده بلکه درهرجای که مسلمان است این نظام جنایی درآنجا پا می کشد که بدون تردید تجاهل وسکوت ملل متحددربرابر این جنایات متضمن همین مطلب پنداشته میشود . از جانب دیگر فهمیده نمیشود که (ناتو) مسئولیت خود را درقبال مسئله بوسنیا چگونه فراموش می کند ونمیخواهدکه با هیئت ارسالی محکمه جرایم جنگ طوریکه موضوع ایجاب می کند همکاری نماید.

وقتی به مسؤل قوای ناتو گفته میشود که روی چه علتی باصربی ها همکاری نموده ومقبره دسته جمعی را برای هیئت ملل متحد نشاندهی نمی کنند ،درجواب می گویند کشف مقابر خارج از موافقه (دیتون) است ،درحالی که نشان دهی جرائم جنگ ازستون های اساسی این موافقت نامه بوده ولی طوریکه (مارك ریشور) یکتن ازقوماندانان قوه ناتو می گوید . آنها فقط ازطریق مراقبت فضایی از حمایه مقابر منطقه (جوبیجیا) که درشرق بوسنیا قرار دارد مسؤلیت خودراتعین می کنند وبه این ترتیب آنها صربی ها را فرصت میدهند تامقابردیگرمناطق را ازمیان بردارند تادلایل اثبات جنایات آنها بدسترس هیئت محکمه جرایم جنگ نیفتد. به این ترتیب با پوشش ایدیولوجی«رخسار سیاه جنایت کاران رامیخواهند بپوشانند آنهم یك ایدیولوجی دشمنانه وظالمانه وغیر انسانی ، اینکه (ناتو) چرا به پشتیبانی خود ازصربی‌ها می افزاید این موضوع چندان پوشیده نیست و میتوان گفت که فقط دشمنی بااسلام است که آنها به این سازش دست زده اند.

وهمین ها اند که مسلمانان رامصدر شر فکر می کنند وسزاوارچنین کشتارمیدانند.

موقف ملل متحد وبطروس غالی ازهمان آوان اولی تجاوز صربی ها برضد مسلمانان وضاحت کامل داشته و فهمیده می شد که سرمنشی ملل متحد دربرابر مسلمانان بوسنیا همان موقفی راتائید می کند —

-که درفلسطین دربرابر مسلمانان تطبیق نمودند ، وقتی گفته می شد که آقای بطروس غالی چرا درمورد بوسنیا بی تفاوت اند ؟ درجواب می گفت: اونمیخواهد وضع جهان سوم بفراموشی کشانیده شود وارچنان شکل وقواره رابخودمی گرفت که شخص ثروت مندی درمقابل فقیری ویا سفیدپوستی دربرابرسیاه پوستی .

وقتی دکتور شریف بسیونی استاد قانون بین الدول دریوهنتون (پیول) درشیکاگو که دارای شخصیت بین المللی وانسان پاکیزه است ، پیشنهاد می گردد که بحیث مدعی العموم در برابر محکمه جرایم جنگی ازجنایات بوسنیا اقامه دعوی کند ،این پیشنهاد ازطرف روسیه ،فرانسه وبریطانیه به مدلول اینکه شخص مذکور هر چند امریکایی بوده ولی مسلمان است مورد اعتراض قرار می گیرد که درحقیقت موقف بطروس غالی تائید میشود، بهمین ترتیب وقتی تصمیم گرفته میشود که صندوق مالی خالص برای مصارف محکمه جرایم جنگ بمیان آید بازهم این پیشنهاد از طرف بطروس غالی طوریکه درنظر است بمیان آمده نمیتواند.

تا آنکه نظریات بطروس غالی با اعتراضات امریکا روبرومیشود . درین وقت است که بطروس غالی مجبور می گردد مبلغ محدودی رابرای مصارف قضات ومدعی العموم(گولد ستون) تعیین نمایند وحق الاجرات کسانی را که برای گرد آوری دلایل اثبات جرم صربی ها کار می کنند ، بصورت محدودی در اختیار آنها قرارداده شود که به این ترتیب منشی مذکورمیخواهد ازیکطرف جنایات صربی ها نباید به حد رسوایی آن برملا گردد و از جانب دیگر نظریات (فانس اوین) تائید گردد ،زیرا (فانس اوین) ادعا می نمود که صرب ها پیروز اند وباید به پیروزی صربی ها اعتراف گردیده وازجنایاتی که در برابر مسلمانان صورت گرفته است چشم پوشی شود.

زنباید دولتی در اروپا بنام دولت اسلامی وجود داشته باشد که این رویداد ها نشان میدهد. تنها ملل متحد وبطروس غالی نیست که از جنایات صربی ها پشتیبانی می کنند بلکه ازیکسال به این طرف سخنگوی (ناتو) اعلان می کند : (خطری که اکنون در برابر ناتو قرار دارد خطر بنیادگرایان مسلمان است)

طوریکه قبلاً اشاره گردید موقف قوه (ناتو) دربرابر حفظ امنیت در بوسنیا وبرملاگردانیدن مجرمین جنگ وگردآوری دلایل اثبات وحمایت ازمقابردسته جمعی ، همان موقفی است که قوماندان قوای (ناتو) دربوسنیا آقای (لایتون سمیت) بامثل بین المللی درمحکمه جرایم جنگ (ریماردگولدستون) بمیان می گذارد و می گوید : ناتو مقابر [illegible]ته جمعی راحمایت وحفظ کرده نمیتواند وتنها باکسانی که درین موردکارمی کنند مساعدت خواهد کرد اما اینکه چه نوع مساعدت ،مطلبی است که وضاحت داده نشده وبسان اصل قضیه بدست خاموشی سپرده میشود ، گذشته ازاینها موقف ایالات متحده در برابر این جنایات دوشکل رابخودمی گیرد موقف قبل ازانتخابات وبعداز انتخابات ،بیاد خواهند داشت که رئیس کلنتون قبل از انتخابات یعنی درسال ۱۹۹۲ می گفت جرایمی‌که برضد مسلمانان بوسنیا صورت می گیرد. تمثیل کننده کشتار دسته جمعی Genociele است ولی بعداز انتخابات نظریات رئیس موصوف تغییر نموده جنایات صربی ها را دربرابر مسلمانان بنام (جنگ های داخلی)یاد نموده بین متجاوز وقربانی فرقی نمی کند وحتی امروز طوری ادعا می کند که اردوی بوسنیامتشکل ازمسلمانان متعصب است وبجای آنکه متوجه جنایات صربی ها باشد، مسلمانان راتحت فشار قرار داده وحکومت بوسنیارامسؤل میداند ورویدادها رابشفع صربی ها با (خطراسلام) همردیف می گرداند، برای اینکه حکومت بوسنیا را تهدید کرده باشند وزیرخارجه امریکا (وارنکریستوفر) بتاریخ ۲۳ - ۱ - ۱۹۹۶ م از بوسنیا مطالبه می کند که محبوسین جنگ راتسلیم دهد ورنه خواهند دید که چه میشود یعنی درصورتیکه محبوسین نگهداشته شوند ، بوسنیا ضرور با عدم کمك های اقتصادی ومساعدات فنی روبرومی گردد . البته موقف ایجابی امریکا در مورد تنها همین موضوع است که وکیل وزارت خارجهٔ امریکا (جون شاتیك) بتاریخ ۲۲ - ۱ - ۱۹۹۵ از مقابر دسته جمعی دربوسنیا دیدن می کند .

که البته این امریك حرکت ایجابی ومثبت به منظور گردآوری دلایل پنداشته میشود.

واضح است که صربی ها از دیرزمانی است که در اروپا وامریکا تحت پوشش ایدیولوجی دشمنانه دربرابر اسلام وارد عمل بوده درهیچ روز نامه اروپا یی وامریکایی نخواهید دید وقتی از ظلم دربوسنیا نام برده میشود در پهلوی آن با خط واضح می نویسند که باید متوجه خطر سبز یعنی (خطر اسلامی) باشند وبه این ترتیب تاثیر حقایق راخنثی می گردانند واین کشتار های دسته جمعی طوری نشان داده میشود که کشتار های دسته جمعی فقط برای ازبین بردن خطر سبز صورت می گیرد .

این بود خلاصه از موقف ملل متحد وایلات متحده ،ناتو ونویسندگان اروپایی وامریکایی وهمکاری مستقیم آنها با صربی ها ودشمنی آنها بااسلام ومسلمانان، ولی ای کاش مسلمانان آلهٔ دست رؤسای بی خاصیت خود نمی بودند .

ماخذ : المجتمع شماره ۱۹۹۶ صفحه ۳۳ و شماره ۱۹۸۷ صفحه ۲۶ - ۲۷

جرړی

میوند

جرړي اوریښي یواځې دبوټي اوونې لپاره حیاتي ندي، یواځې بوټي او ونه په ریښو او جرړونه وي ولاړه بلکي قومونه اوملتونه هم په جرړواو ریښوولاړوي اوپرهمدغوریښوپایي .

څومره چي جرړي اوریښي مضبوطي وي تنه هماغومره مضبوطه وي او چې ریښي او تنه پیاوړي وي څانګي اوښاخونه هم مضبوط وي اوچي داټول مضبوط وي میوه اوثمره بي زیاته خوږه اوپخه وي .

جرړي اوریښي دبیخ اوبنیاد حیثیت لري بیخ اوبنیاد چي دوداني څومره پوخ وي دیوالونه ووسرهٔ پاخه پورته کیږي اوکه دکومي وداني بنیادونه وراسته شول هغه وداني روغه نشي پاتي کیدي بیخ اوبنیاد بنست اوتهداب دي، اساس دي اودبیخ اوبنیاد ، اساس اوبنست تینګښت ډیر ضروري دي دادومره ضروري دي چي ډاکتر صاحب فاروق اعظم دافغانستان د بیخ بینادو دبیا ودانولو په نوم یوه موسسه وړته جوړه کړه خودموسسي چ، خپله بیخ بنیادپي پیاوړي اومضبوطي ته ده، ډیوی ورو تبي له لاسه بي د ځنګلنو سلګي ووهلي .

ډیره بده بنیراهغه ده چي چاته وویل شي :« خداي دي بیخ وباسه » دوچا» او « څه » چي بیخ ووځي هغه فنادي دهغه دزوال مخه هیڅوك نشي نیولي .

دپیرانو اوسیدانو اولادي ته ځکه خلك احترام کوي اولاسونه یي ښکلوي چي دنیکو خلکو زوزات دي یعني بیخ يي پوخ دي له همدي ځایه خلك وایي خښتي یې پخې دي. ددوي اولاد اوزوزات که هرڅه کوي دنیکونو یه توسن خلك تري سترګي پټوي اویدوته یې هم خلك ښه وایي دا ټول دبیخ اوبنیادبرکت دي .

دکوم بوټي اووني ریښی اوبیخ چي مضبوط وي هغه د سختو ستیغو اوتوپانونو په وړاندي هم مقاومت کولي اوخپله بقاساتلي شي دبوټي اوونې چي دبیخ اوجرړو څومره خدمت اوخصمانه وشي په هماغه اندازه ښه اوږر وده کوي اومیوه اوفصل بي ښه کیږي اوډیریږي .

په دښمنیرکي هم بیخ اوبنیاد ډیر یادیږي په دغه وخت کي هم داخبره کیږي چي ته بي پرېږدم بیخ بي وباسم . یاداچي بیخ اوبنیادته مي بي ایښي . اوس یونوي خبرياآوازه داراغلي

خاټ دویلولایق نه دی

چي له افغانستان نه دپسته اوبادامو جرړي اوریښي راټولیږي اوبهرته وړل کیږي ددغو جرړو اوریښو دوړلولپاره ځانګړي اقدامات کیږي اویه مخصوصه طریقه ټولیږي اوورل کیږي، بادام اوپسته دافغانستانو مهم صادرات وو دنوروونو اوځنګلونو جنازه خو لاوختي ووتله . چارتراش چي یووخت په اوښانو اوبیا په موټروکي بهرته وړل کیدل اوس په الوتکوکي وړل کیږي اوچي کوم ځنګل دوړلونه وي هغه اوورواخلي وسوځي ابري ابري اوشنه لوخړه شي .

داسلام پیغمبر (ص) به مجاهدینوته امرکاوه چي دجګړي او فتحي پر وخت شنه بوټي اوونې ونه وهي . ونې اوبوټي هم خپل ژوند لري اوژوند په اسلام کي ډیرعزیز دي .

چارتراشونه خوټوله دنیاارتیالري اواستفاده تري عامه ده . دحیراني ځاي دادي چي دبادامو اوپسته وو له جرړو اوریښو څه استفاده کیداي شي . واي چي داکار پداسي درزکي روان دي چي نژدي ده په ټول هیواد کي څه مړده ورروسته څوك دبادام اوپسته ونه دتبرك لپاره هم ونشي موندلي دا لکه چي آخري ګرزاروي اودریښواوجرړو دیري کولو ګوزاروي ، یاداچي نورهرڅه لوټ شوي وي ، ځانګي، خاښونه اوتنه وهل شوي وي اوله منځه تللي وي اواوس دریښو او جرړو واروي چي دتل لپاره یې له سرخوږي ځان خلاص کړي .

لرغوني اوتاریخي آثارهم زمو[illegible]

دملت جرړي - ریښي تهذاب، بنسټ ، بیخ اوبنیاددي چي لادوحته ختلي دي اوهغه چي دځمکي په تل کي وو، دهغو پرمرې هم چاره راکښل شویده دپسته اوبادامودجرړو ایستل لرزوونکي خبردي دا داسي خبر دي لکه ددغه ملت جرړي اوریښي چي ایستل کیږي ، داخبراو پیښه په پته خوله یوډیر دردوونکي راز افشاکوي اوهغه ددغه ولس له جرړو اوبنیادونو سره ددښمنۍ رازدي، دابوګواښ دي، یو تهدید دي دجرړو اوریښو ایستل څه معمولي خبره نده ، پدي کي یوه پرغل ګرځنګي دپلوماسي پسرته ده ، داسي دپلوماسي چي له جرړو، ریښو او بنیادسره ددښمنۍ څرګندوني کوي .

په جګړو او دښمنیو کي داخبره کیږي چي مال بي ستااوسربي زما خواوس له‌دي نه هم خبره اوښتي ده . پدي هم دجازړه نه یخیږي ځکه خوجرړو اوریښوته لاس اچوي اوله ریښو او بیخه یې اوباسي چې بیا هیڅکله راونه ټوکیږي اوسرپورته نکړي .

[illegible]

گرانولوستونکو!
دالیکنه زموږ له مظلوم ملت اوګران هیواد سره دکمونیستانو دخیانتونو او فاجعو دسند په توګه ولولي.

تعرض

بې ستراتيژي تاکتيک

د«ميتري ګابي» او «واسيلي نيکروف» ليکنه : پنځمه برخه دخيبر ژباړه

د(۱۹۸۰) کال دجنوري دمياشتي تر (۱۵) نيټي پوري په افغانستان کي دروسي لښکرو د(۴۰) اردو دوه پياده او يوه دهوائي ديسانت فرقي، دهجومي ديسانت يوه لوا او دوه بيلابيل غنډونه په پوره ډول ځاي پرځاي شول. وروسته دغه لښکري په يوي پياده فرقي او دوو غنډونو تقويه شول چي په عمومي توګه دافغانستان په خاوره کي د روسي لښکرو (۸۱۸۰۰) پوځيان دپياده لښکرو او (۱۶۸۰۰) پوځيان د هوائي او هوائي مدافعي دقوتونو ځاي پرځاي شوي وو.

دشوروي د هغه وخت مشرانوله وړاندي نه په دي فکرکاوه، چي په افغانستان کي په خپلو ځاي پرځاي شولښکروځه نوم کيږدي. بالاخره داستينووف دپيشنهاد له مخي پري د په افغانستان کي د شوروي اتحاد «محدودوقطعاتو» نوم کيښودل شو. ددي سره سره چي په دولتي اورسمي سطحه په افغانستان کي په متعرضولښکروباندي «محدودوقطعاتو» نوم ايښودل شوي ؤ، خودلښکرو عسکرو او افسرانو به په ويراستهزا اميز (مسخره) کوونکي ډول خپلوځانونوته «محدود قطعات» ويل.

په افغانستان کي زموږ دلښکرو دپوځيانو سره په دولتي سطحه ډيرښه برخوردکيده او زياتو خلکو داسي فکرکاوه چي ددغو محدود ولښکرو په راتګ سره به ستونزي حل سوله اوارامي به ټينګه شي. خو د افغاني ټولني زيات شمير عوامو دغولښکروته ددښمني په سترګه کتلي اوکله ناکله به ئي دلښکرو په کتارونو ډزي کيدي اوموټري به ئي په ګولوويشتلي.

د(۱۹۸۰) کال دجنوري په (۱۰) او (۱۱) نيټه دلومړي ځل لپاره دافغانستان داردو د۲۰ فرقي دتوپچي دغنډ افسرانوزموږ دلښکرو پرضد قيام وکړ. قيام کوونکو دري تنه روسي مشاورين وژلي وو اويه لسګونو غرني هاوانونه اوتوپونه ئي دګوليوسره نيولي ؤو. په دغه وخت دروسي لښکرومحدودوقطعاتو د لومړي ځل لپاره په لويه پيمانه په جګړه کي برخه واخيسته.

د۲۰ فرقي دتوپچي دغنډ دافسرانو دقيام سره سم د افغانستان دوسله وال پوځ قوماندانې د ۴۰ اردو څخه دقيام کوونکو پرضدمرسته وغوښته. دتوپچي دغنډ د قيام کوونکو دځپلويه خاطريه نهرين باندي دحملي لپاره چيرته چي دقيام کوونکو دغنډ قرارګاه وه د ۴۰ اردودلښکرويو پياده کنډك دتوپچي ديوي بطرئي اودټانك ديوبلوك سره دکندوزنه نهرين په لوري حرکت وکړ.

همدغه شان دروسي لښکرو يوپياده ټولي دافغانستان داردو دقطعاتوسره يوځاي چي دهوائي قواوځوانه حمايه کيدي دبغلان نه په نهرين حمله وکړه. الوتکو اوټانکونو دغنډقرارګاه ترسختو حملو لاندي ونيوله، وروسته دقيام کوونکو مرکزکلابند شو اويه نتيجه کي دراتلونکي ورځي په سهارئي قيام کوونکي افسران بي وسلي کړل.

په دغه لومړني جګړه کي دروسي لښکرويوځيانو تقريباً (۱۰۰) تنه عسکراوافسران وژلي وه خودروسي لښکروځخه دوه مړه اودوه تنه تورسخت ټپيان شوي وو.

لکه ځنګه چي دلښکرو په تعرض کي برخه اخيستونکي پوځيان اوپوځي کارپوهان وائي د (۱۹۷۹) دديسمبر دمياشتي دعمومي تعرض له پيل څخه تر (۱۹۸۰) کال دفبروري ترمياشتي پوري د افغانستان خاوري ته ټولي روسي لښکري ننوتي وي اوددغه هيواد په بيلابيلو ځايونوکي ئي دکارنيزونويه جوړولو سره لوي او وړي قرارګاوي جوړي کړي وي.

دروسي لښکرو پرسونل تردغه وخت پوري دسروبي، نغلواوپلخمري دبريښنادبندونو، دمزارشريف دکيمياوي سري دجوړولود فابريکي او دسالنګ دعمومي تونل دامنيتي چارو واګي په خپل لاس کي اخيستي وې ترځويه دغوځايونو کي دملکي روسي مشاورينو امنيت وساتي.

همدغه شان دروسي لښکرو يوشمير قطعاتو دکابل، بګرام، کندوز، مزارشريف، جلال آباد، کندهار، شينډنډ اوهرات دهوائي ميدانونو په شاوخواکي امنيتي کمربندونه جوړاوددغو هوائي اډو دامنيتي چارو په ساتلو ئي پيل کړي ؤ. تردغي نيټي پوري په افغانستان کي د۴۰ اردو پوځيانو په جګړو کي برخه نه وه اخيستي.

ددغودوو مياشتو په موده کي به کله ناکله مخالفينو د روسي لښکرويه اډو حملي کولي خود روسي لښکرو پرسونل به دمخالفينو ډزوته له خپلواډونه په ډزو ځواب ورکاوه، ولي داډونه بهرئي دهغوي پرضد په جګړه کي برخه نشوه اخيستلي، ځکه هغوي ته داسي قومانده ورکړل شوي وه چي له خپلو اډونه بهريه په چا حمله نه کوي.

د ۱۹۸۰ کال دمارچ په مياشت کي په جګړو کي دروسي لښکرو دفعال ګډون دوهم پړاوپيل شو.

اياپه دغي موقع هم دشوروي اتحادمشرانو ته دخپل تعرض په اړه فکرپيدانه شو؟

بي ځايه به نه وه چي په دي پوښتنه فکرشوي واي.

په ۱۹۸۰ کال دجنوري دمياشتي په ۲۰ نيټه افغانستان ته دلښکرو په ليږلوسره زموږ سياست دي ته رسيدلي ..... تردي عنوان لاند دکمونست ګوند دمرکزي کميټي او د «کي . جي . بي» مقاماتوته دنړيوال اقتصاددسوسياليستي سيستم دانستيتوت يوياداشت ولېږه. په يادداشت

کي ليکل شوي وو. معلومه شوه چي په افغانستان باندي دروسي لښکرودتعرض ګټي د هغه راميئنځ ته شوي تاوان په پرتله کمي دي کومي چي شوروي اتحاد په ټرهواله سطحه درلودي:

۱- په لويديځ کي دناټو اوپه ختيځ کي دچين سره په دوو محاذونوکي د شوروي اتحاد دسيالي باوجود په جنوب کي په نامناسبو جغرافيائي، اجتماعي، سياسي شرايطو کي يوه دريمه خطرناکه سياسي - نظامي منبع پيداشوه.

زموږ په ګران هيواد باندي دسرو لښکرو دبې شرمانه تعرض نه وروسته دروسانو ګوډاګي کارمل اودشوروي سفير تبيوف په کابل کي دخندا په حال ليدل کيږي.

۲ - دلويديځ نه ترختيځ پوري دهغوهيوادونو لخوانه شوروي اتحاد په يوه کمربندکي ګيراو ددغي لوي جبهي کړبنه لاپسي په ډيره اندازه پراخه شوه.

۳ - دشوروي اتحاد نفوذ اواعتبار دناپيلتوب په غورځنګ په تيره بيا په ابلاغي لري خورادپرکم شو.

[illegible] دتسلطاتي مسابقو په مينځکه ورلو سياسي هلي ځلي سي ډيري متاثري کړي اوداپروسه ئي په ټپه ودروله.

۵ - دشوروي اتحاد اقتصادي اوتخنيکي پرمختګ ئي دسخت فشار لاندي راووست.

۶ - دشوروي اتحاد پرضد دلويديځي نړي اوچين لخوا په لاره اچول شوي پروپاګنډ لاپسي پراخ شو

ترڅو دشوروي پر ستيژ په لويديځو هيوادونو، د پرمخ تلونکو هيوادونو اوهمدغه شان په سوسياليستي هيوادونو په عامه ذهنيتونوکي وټکوي.

۷ - دافغانستان اوسنيو پيښو دشوروي او چين ترمينځ د امکان په صورت کي داړيکو دسه کيدو چانس له مينځه يوړ.

۸ - همدغو پيښو دايران اوامريکا ترمينځ د بحراني مناسباتويه ښه کولو مثبته اغيزه وکړه.

- دشوروي اتحاد د سياست په وړاندي بي باوري زياته شوه. ديوګوسلاويا، رومانيا اوشمالي کوريا دهيوادونو او د شوروي اتحاد ترمينځ واټن زيات شو. حتي د پولېنډ او هنګري په مطبوعاتو کي په ښکاره ډول په افغانستان باندي دشوروي دنظامي اقدام انتقادي مطلبونه ليکل شوي دي.

۱۰ - په افغانستان باندي دتعرض نه وروسته لويديځي نړي دنوي فعال سياست په غوره کولو سره دشوروي اتحاد او نورو سوسياليستي هيوادونو ترمينځ بي اعتمادي راميئنځ ته کړه. چي په نتيجه کي اختلافونه وزيږيدل اودسوسياليستي هيوادونو ګډو ګټوته زيان ورسيد.

۱۱ - شوروي اتحاد دي ته اړشوچي دافغانستان سره داقتصادي مرستونوي پيټي په خپله سرو واخلي.

ددي يادداشت په اړه دانستيتوت مدير اکادميسن تيمنيبوويچ بګمالووف وائي: موږ پورته ذکرشوي مادي په خپل يادداشت کي مرکزي کميټي ته وليږلي، خو د شوروي مشرانو په دي اړه موږ ته مثبت او منفي ځواب رانکړ.

دکتاب ليکونکي وائي: چي په (۱۹۸۰) کال دفبروري په مياشت کي دشوروي دهغه زمان مشرانو دافغانستان نه دروسي لښکرو دبيرته ويستلو مسئله ترغورلاندي ونيوله. داسي شواهد شته چي ددي کاراصلي محرك پخپله بريژنيووف ؤ. هغه ددي مسئلي دڅيړلو په وخت وويل: «په افغانستان کي دامن له مينځه وړل اودببرك کارمل په مشري دنوي دولت سره لومړني مرستي کول زموږ د«محدودوقطعاتو» اساسي او ښپړني دندي وي چي دواړه اوس ته رسيدلي دي».

خودافغانستان نه دروسي لښکرو دبيرته وتلو په اړه دبريژنيووف ددغه وړانديز سره اندروفوف اواوستينوف توافق ونکړ. دغو دواړو دلښکرو دبيرته وتلو په اړه ويل: «که چيري موږ خپلي لښکري دافغانستان نه ويباسو ډيره دولت به توګه د شوروي دولت پرستيژته به تاوان ورسيږي. دکارمل په مشري دنوي دولت دکمزورتيانه په استفادي سره به افغانستان کي حالات بدل شي، چي ددي کاريه پيښيدوسره به موږ افغانستان بيخي له لاسه ورکړو او همدغه شان به دشوروي اتحاد پولوته نژدي مسلمانان مخ په زياتيدو شي.

